**دمقالې لیکوونکی** : پا ول کریګ رابرت (Paul Craig Robert).
**منبع او دخپرېدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز«30-08-2016» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

## آیاامریکایانوکولای شی هغه شیطان چې پردوی باندی حکم چلوی له قدرت څخه رانسکور کړی

## Can Americans overthrow the evil that rules them ?

**انفارمیشن کلیرنګ هوز«30-08-2016»**: پاول ولفویتز«Paul Wolfowitz»

دچا په خبره چې هغه دامریکی دمتحده ایالاتو لوړ پوړی چارواکی ته ویلی چې دی دیو شمیر زیات دسته جمعی وژلو اود اوه (۷) هیوادونو دورانولو اود تخریب کولو مسولیت لرل له سره دروغ دی اودا پرما باندی بی له یوه تهمت بل شی نه دي . با ید په یاد مو وی چې پاول ولفویتز په ډاګه کړی چې هغه به خپل رای **هیلاری کلنتون** ته به ورکړی ایا د ولفویتز خبره تاسو ته اطمینا نی ښکا ری اویا دهغه خبره تاسو ته داطمینان او د ډاډګیرنی احساس ورکوی ؟

دلته دحیرانتیا خبره دادی چې دولفویتز درای ورکونی اعلام داسی په ډاګه شوی چې هغه خپل راي **دونالد ترومپ** ته ورکوی نو په دی اړه آ یا د بل کوم خبری انتظا ر هم له هغه څخه وړل کیږی ؟

**دونالد ترومپ** په خپل یوه تبلیغاتی وینا کی ویلی چې هغه دروسیی سره په راتلونکي کی کوم چې واشنګتن د روسي به مقا بل کی له خصومته ډ ک چلند خپله کړی د هغه ضرورت نه وینی چې دروسی سره مخا صمت او مخالفت ته دوام ورکړ شي .

د **ترومپ** له نظره اویا د **ترومپ** سره د نا تو د موجودیت په هکله دیوسوال طرح دی او هغه دا چې آیا د **نا تو** موجود یت اویا د هغه د فعا لیتونو دوام ته ضرورت لیدل کیږی اویا څنګه ؟ د **ولفویتز** له نظره ددغه سوله ایز خوښونکی کا ند ید پا لیسی اویا دهغه څرګندونه پخپله **دولفویتز** د د کترین سره په ټکر کی ولویږی ځکه چې **ولفویتز** په نړی کي دامریکی دمتحده ایالاتو هژمونی اوبرلاسي غواړی حال دا چی د **ترومپ** پا لیسي دهغه (**ولفویتز**) دکترین د تهد ید سره مخا مخ کوی اویا داچی د **ولفویتز** لیونی او جنون آمیز ماغذه داسی حکم کوی چې د امریکی متحده ایالات او دهغه هیواد نوی محافظه کار (نیوکان ) دلي ټپلی د امریکي هژمونی نشي سا تلی ترهغه چې پر ټول نړي باندي حکم ونه چولی اویا پر نړی با ندي برلاسي ونه لري .

جګړه غوښتونکی «هیلاری کلنتون» چې ممکن اخرنی اویواځنی کس وی کوم چې که چیري هغی دامریکی د متحده ایالاتو د جمهوری ریا ست مقام ته ورسیږی نو دهغی

غرور او د هغی بی کفا یتی په ګډه سره نتیجه به یی دنړی د دریم جګړی آغاز اوپیل وي «هیلاری کلنتون » دجولای دمیاشتی په دریم کال ( ۲۰۱۵) کی داسی اعلام کړی وه : زه غواړم په ډاګه کړم او هغه داچي ایرانیا نو په دی با ندی با ید پوه شي چي که چیری زه دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس شم نو په هغه صورت کی به مونږ پر ایران باندی تجاوز اویرغل کوو اومونږ سره دا قدرت اوتوان شته چی هغوی یعنی ایرانیان اوایران بلکل له مینځه ویسو، دا له عقله کم اولیونی «هیلاری کلنتون» وروسته له دی اعلامیی څخه چي د ایرانیا نو په ادرس با ندي بیان کړ – له هغه څخه وروسته دروسیی جمهور ریس یی د ( نوی هیتلر ) په نوم یاد کړ اوهغی سره یعنی هیلاری سره شاید چی هیڅ کوم شک اوشبهه موجود نه اووسی چي هغی کولای شی روسیه هم له مینځه ویسي .

***«هیلاری کلنتون»*** هغه کس دي چي هغی د ***ویکتوریا نولاند*** (Victoria Nuland) صیهونی نوی محافظه کار د نفوذ او د قدرت په واسطه سره دامریکی د متحده ایالاتو دبا ند نی چارو وزارت مقام ته ورسول شوچی د امریکی د متحده ایالاتو په لاس سره په اوکراین کی په لاره اچول شوی ***کودتا*** با ندي نظا رت وکړی اود روسیی پرضد د تبلیغا تو تنور ګرم وسا تي او واشنګتن وهڅوی چي د خپل اروپا یی متحد ینو سره په ګډه دروسیي پر ضد اقتصادی بند یزونه ولګوی اود روسیی په پولو کي نظا می اډی اوتا سیسات ځای پر ځای کړي - هستوی قدرتونه ولمسوی اوپه دي ډول سره شخړی او تشنجا تو ته لمن ووهي .

د یا دونی بل مهم مطلب داچي د«هیلاری کلنتون» طرح او وړاند یز د ***ولفویتز*** د دکترین سره پوره ورتوالی او یو رنګی لری نو د احتما ل په نظر کی نیولو سره که چیری بناغلي ***ولفویتز*** د هیلاری په کا بینه کی د ا مریکی دمتحده ایالاتو ددفاع دوزیر په صفت دهیلاری له خوا وټاکل شی نو ددی دواړو دنظر په ویو والی سره دریم نړیوال جګړه به پیل شی یعنی ددی دواړو دګډ نظر مفهوم دنړی ددریم جګړی مفهوم د سړی ذهن ته راولی.

د بلی خوا څخه کله چی پخوا نی شوروی اتحا د دړی وړی شو وروسته له هغه د پنټاګون یو لوړ پوړي رسمی چاروا ک د ***ولفویتز*** د دکترین په هکله داسی ولیکل :
دولفویتزدکترین داسی توضیح کوی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دپالیسی اودهغه د هد ف اساسات باید پردی ستونو باندی ولاړوی چی امریکی باید دهر یوبل هیواد دنفوذ اودهغه دقدرت د زیا تید و مخه ونیسی کوم چی هغه هیواد د امریکی د متحده ایالاتو د نظا می قدرت سره د سیا لی ډګر ته ووځي چی ددی هیوادو څخه مقصد روسیه او چین دي .

نوپه دی بنه سره دهیلاری کلنتون اودولفوتیتز ګډ نظر په ټول نړی کی دهرچا دویرولو دپاره یوډیر کرغیرن سوغات دي - نو ددی پورتنیو یادونو په لړکی که چیری دهستوی سلاح واک او اختیارد داسی یو لیونی اومغرورکس په لاس کی ولویږی یعنی دهیلاری

کلنتون اود ولفویتز په لاس کی نو بی له کوم شک هغه به داند بینئی له پلوه تر هریوبل شي ډیر خطرناک اوبورنونکی وي .
اساسی سوال دلته دادی چی آیا «هیلاری کلنتون» سره له دی ټولو سرغړونو کوم چي هغی دملی امنیت د مند رجا تو په وړاندی لری اود فا سد «اوباما» څخه د ملاتړ دتر لاسه کولو اوبیا په مستند اونه انکار منونکی شواهدوپه لرلوسره لکه دځا نی یا خودی معاملی په کولو سره کوم چي دهغه لاسته راوړنی دکلنتون شخصی پانګه (۱۲۰) میلیون دالراود کلنتون د بنیاد ټوله پانګي ( ۱۶۰۰) میلیون دالرو ته ریسېږی آیا بیاهم کیدای شي چي هغی دامریکی د متحده ایالاتو جمهور ریس وټاکل شي ؟ دا ټولو ته ښکاره دی چی کلنتون د خپل شخصی سترتوب (بزرگ نمایی) دپا ره دولتی د فترونه پکار وړلي ایا داهغه څه دی چي امریکا یان غواړي؟ دوه نفر کوم چی هغوی په نړی کي ډیر شتمن شوی او غواړی چي نړی هستوی جګړی ته ور وکاږی .
اما درای ورکونی الکترنیکی ماشین پواسطه سره رای ورکول هغه څه دي چي امریکا یا ن د رای ورکونی په اړین نشی کیدای چی یو پریکړنی تصمیم ونیسی یا دهغوی دپوښتنی ځواب نشی تر لاسه کیدای اوهغه داچی چا اویا څوک درای ورکونی الکترونیکی ماشین په واسطه سره دپروګرام کړل شوی رایو دشمیرنی راپور وړاندی کوی ؟ امریکا په اوسنی انتخاباتو کی چی له هغی څخه نظر سنجي تر لاسه شوی تل دوړنی دباور وړشاخص مخکی له مخکی درای ورکونی دالکترونیکی ماشین له پیدایښت څخه درایود اختلاف اود تفا وتونو د لرلو له مخی دانتخا با تو وړونکی نسبت وهغه ته چی درایو الکترونیکی ماشین درای ګیری راپور وړاندی کړی معلوم او په ګوته کړی درای ورکونی د الکترونیکی ما شین راز اوپټوالی (محرمانه بودن ) په دی کی دی چی په ماشین یا د ستګاه کی د رای ورکولو پرو ګرام د (ځانګړی نرم افزار) پواسطه سره څنګه چمتو اوڅنګه خوندی شوی دی ځکه نوموړی ماشین کی کاغذونه داسی په لیکه شوی نه دی چی د را یو د بیا له سره د شمیرول خنډ شي .
نو دپورتنیو یادونو په لړ کی کوم چي دواړه سیاسیی نهادونه ددونالد ترومپ سره په مخالفت کی دی نو تاسی څرنګه فکر کول غواړی یا څه انګیرنه لری چی دغه درای ورکولو ماشین ته چا به څه ډول پروګرام ورکړی ؟ اودا ځکه چي ټولنیز رسني (میدیا) ددونالد ترومپ سره ښکاره مخالفت لری سوال دلته دادی چی آیا درایو نتا یج به له نظر سنجی څخه تر لاسه شی یا داچی غلط راپور به وړاندی شی.
جمهوری غوښتونکی فعالین نه جمهوری غوښتونکی رای ورکونکی توله یو سره له دی نه چی پرهغوی داسی ادعا شوی چی دهغوی رای د دونالد تروڅ پواسطه سره دپیسوپه بدل کی اخیستل کیږی په قهر او غضب دی دا نو څنګه امکان لری چی جمهوریخواه رای ورکونکی د نور کا ندید په نسبت دونالد ترومپ ته خپل رای وکاروی داخبره د جمهوریخواهان فعا لین نه وایی بلکه هغوی د رای ورکونکی په عوض

ممکن چې د جمهوریخواه کا ند ید ته خپل رای وکاروي .
که چیری موضوع داسی وی نو دوی هم لکه د دموکراتا نو په شان دی او هغه داچې ددموکرات دگوند دمینځته راتلو څخه ځو کا له د مخه د ځا نګړی نما ید ګا نو ( super delegates) سا زمان یا کمیټه د دموکرات ګوند د ایجاد ولو د پاره بی دخلکو درای ورکونی څخه تا سیس شو اودغه د نما یند ګا نو هییت ته دومره واک او اختیار ورکړ شوی وه چې نوموړی کمیټه پرته دخلکودانتخاب اودخوښی څخه دامریکی دمتحده ایالاتو دریاست دپاره کاندید وټاکي یعنی په یوه معنی اومفهوم سره دغه کمیټه دمو کراتان وه او هغوی خپل ځان د خلکو دحزب دغږی په نوم سره یادول یعنی هغسی یو حزب چې دخلکو دتعجب اودحیرانتیا موجبات یی را برابر کړی وه په هرصورت دتازه را رسیدلی معلوماتو پربنیاد داسی اټکل کیدل چې ددموکرات ګوند څخه جمهوری ریاست ته کا ند ید برنی سندر(Bernie Sanders) په انتخاباتو کی وړونکی وه خومګر د نمایندګانو دکمیټي درای د تقلب له مخی برنی رد شو اوهغه ته چا نس ورنکړ شوچې تراخره په انتخاباتی مبارزه کی پا تی شي [له دی تذ کراتوڅخه داسی را معلومیږی چې اوس هم د دموکرات په ګوند کی همغه د نما یند ګانو کمیټه دتیروختونو په شان موجود دی چې د ګوند له خوا دجمهوری ریاست دپاره کاندید ټاکي نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دغه کمیټه په تقلب سره **برنی سندر** ته چا نس ورنکړ چې تر اخره پوری په انتخا با تو کی خپل مبارزی ته دوام ورکړی چې دا پخپله یو ضد دموکراتیک پا لیسی دي ]
***نو دا په امریکا کی سیا ست دی ؟ یا دا دامریکی دلوړ پوړی چارواکی پالیسی دی کوم چې سرتر پایه په فساد کی غرق پا لیسی یا ضد دموکراتیک پالیسی!*** کریس هیدسکیس (Chris Hedges) ***بلکل ریښتیا ویلي وه اوهغه داچې هیڅ شی بی دانقلاب څخه تغیر نه خوری یعنی هرشي دانقلاب پواسطه سره تغیر خوری .***
***دونالد ترومپ*** دهغه دشتمنی سره سره چې لری اوس ځان خرڅونکی تولنیز رسنی اوداولیګارشی ( دوړو ګروپونو حکومت یا ګروه سالاری حکومت ) پواسطه سره کوم چې د ***دونا لد ترومپ*** ګواښ د اولیګا رشی د کارداجندا یوه سلسه ممکن تشکیل کړی هغه د یو د ښمن په بڼه خلکوته ورپیژندل شوی دی اولیګارشی نه داچې یواځي پخپله ***دونا لد ترومپ*** یا تولنیز رسنی (میدیا) په بشپړ بڼی سره تر کنترول لاندی نیسي ویا تر کنترول لاندی نیولی بلکه اولیګارشی پرخلکو باندی فشار اچوی چې د ***دونالد تومپ*** په وړاندی خپل نفرت اوکرکه ښکاره کړی نو په دی لحاظ سره امریکا یی تر فشا ر لاندی خلکو باید چې د ***دونا لد ترومپ*** څخه ملاتړ وکړي.
دجمهوریخواهانو په مقد ما تی ټا کنو کی له دی نه چې دونالد ترومپ دیو دښمن په بڼه خلکو ته ور وپیژنی چندان اعیزمن نه وه یعنی پر خلکو باندی تا ثیر ونکړ نو آیا دهغوی دغه تبلیغات د جمهوری ریا ست په انتخا با تی سیا لی کی به تا ثیر واچوی ؟

*نو که چیری ددغه ځان خرڅونکو تولنیز رسنیو (میدیا) له دښمنی نه ډک تبلیغات ونشی کړلی چی **دونالد ترومپ** دخلکو په ذهنیتونو کی د یو دښمن په بڼه ور وپیژنی اویا د اچي که چیری د **دونالد ترومپ** څخه له الکترونی رای ورکونکي ما شین څخه رای غلا شی اویا په سرقت سره ویوړل شی نو په **هغه** صورت کی کیدای شی چي امریکا یا ن د یو اوږدی مودی د پا ره افراطیګرای یا رادیکا لیزم خواته خپل تمایل ښکاره کړي هغسی تمایل ته کوم چی دهغه دپرمختګ انتظار یی دفدرال داکثرو دولتی سازمانونو حتی د پوست داداری – او دامنیت اجتماعی له خوا وړل کیدل . او دوی له یو سره په دي اند ېښنه کی وه چي څرنګه کولای شی اسلحه اوجنګی مهمات تر لاسه کړي او ددیګ چینی دهالیبورتون (Halliburton) شرکت (385 000 000) دالر په امریکی کی جیلخا نو د جوړولو دپاره ځانګړی کړ.*

*هغوی چی غواړی مونږ کنترول کړی نو هغوی بی له نړیوال جګړی څخه مونږ نشی کنترولولی دبلی خوا څخه اوس ټولو ته څرګند دی چي دامریکي په متحده ایالاتو کی شیطانان له خلکو څخه قدرت قبضه کړی اودغه شیطا نا ن قبض کړل شوی قدرت پخپل خوښه سره بیرته خلکو ته نه ورکوی ؟*

----------------------------------------- **په درنا وی 2016-09-01**